**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د طلاق خطرونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« والصُّلْحُ خَيْرٌ»ژباړه:« روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده »،** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

اسلام ګډ ژوند ته یو ځانګړی حرمت او لوړ مقام ورکړی او حقوق، وظایف او اخلاق یې وضع کړي چې د کور، میني، رحم او متقابل احترام په چوکاټ کې یې دا ثبات، یو بل سره تړلي، لکه چې الله تعالی فرمایی:« وَعَاشِرُوهُنَّ بِالمَعْرُوفِ» ژباړه:« له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ»او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ستاسو کې ترټولو غوره هغه دی چې خپل کورني او خپلو ته ګټور وي.

او قرآنکریم که څوک دقیق فکر وکړي نو دا به ورته برڅیره شي چې الله تعالی د زوجې یا ګډ ژوند میثاق غلیظ یعني دروند تړون په نوم یاد کړي دی، او دا ددی اړیکي د احترام په وجوب والی دلالت کوي او ددی لمنځه وړلو او خرابولو څخه یې خبرداری ورکړي او منع یی کړی لکه چې الله تعالی فرمایی:« وَأَخَذْنَ مِنْكُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا» ژباړه:« او هغوی ستاسي څخه پخه ژمنه اخیستي ده.».

اسلامي شریعت پر ښځي او خاوند غږ کړي چې یو بل ته د انصاف او عدل په سترګه وګوري او ددی خیر اړخونو کې فکر وکړي اوپدي کې د کورني د بقاءاړخونوباندي فکر وکړي چې هغه نفسي ارامتیا او د اولادونو خوشحالي ورکي شاملیږي لکه چې الله تعالی فرمایی:« وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا» ژباړه:« له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی نه خوښیږي، نو کېدای شي چې تاسي به یو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کښي ډیري ښېګڼي ایښي وي.» او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د مومن ښځي څخه بده مه ګڼي که ستا یو سه د هغه د عمل څخه بدي راشي نو بل به د ورته خوښ شي، پوره یوازی الله تعالی ده او نیمګړتیاوي د هغه په انبیاؤ او رسولانو کې دي.

بې له شکه چې د ښځي او خاوند ترمنځ ژوند د ځینو داسې نظریو تابع وي چې د کورنۍ ارامتیا ته زیان رسوي، له همدې امله قرآن کریم د دې لپاره اغېزمنه لاره برابره کړې ده او څرګنده کړې یې ده چې هر څه په سوله، اتفاق، رضایت او نیکي او خیر کې دي، لکه چې الله تعالی فرمایی:« وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا» ژباړه:« کله چې کومه ښځه د خپل مېړه له ناوړه چلن یا مخ اړوني څخه په وېره

کښي وي، نو هيڅ باك نشته که مېړه او مېرمن (د څه حقوقو پر کمولو، زياتولو) په خپلو منځو کښي روغه جوړه وکړي. روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده. نفس د زړه تنګی خوا ته ډېر ژر ميلان کوي، خو که تاسي د احسان له لاري چلن وکړئ او له خدايه ووېرېږئ، نو باور ولرئ چي الله ستاسي له دې ډول کړو وړو څخه با خبره دي.» او که خبره د کورنۍ د مداخلي غوښتنه کوي نو د عقل خاوندان او هغه څوک چي تجربه لري او پرهيزګاره وي او خيرغوښتونکي نو هغوي د مسلي په حلولو د مسلي د حل لپاره په ډير ډول سره مداخله وکړي او د اختلافاتو د لمنځه وړلو لپاره هڅه وکړي لکه چې الله تعالی فرمايي:« وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا» ژباړه:« او که تاسي چيرته د مېړه او مېرمني د اړيکو د خرابېدو په باب انديښمن ياست؛ نو يو منځګړی د مېړه له خپلوانو څخه او يو د مېرمني له خپلوانو څخه وټاکئ. که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر منځ د توافق لاره برابره کړي. الله په هر څه پوه او باخبره دی.» او بيا فرمايي:« لا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا» ژباړه:« د خلکو په پټو مجلسونو کښي زياتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقي او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره يا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووايي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چي د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛»او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ای خلکو تاسو زه د لمونځ او روژي او د صدقي د لوړو درجو څخه خبر نکړم؟ وی ويل چې ولي نه وی فرمايل: نو د دوو کسانو ترمنځ اصلاح او سوله راولي.

خو که دا فکر راشي چې د واده ژوند ته دوام ورکول ناشوني دي، نو شريعت د دې لپاره چې طوفان کم شي، زړونه نرم شي، روحونه پاک شي، او ذهن حاکم شي، نو بيا کتنه کيږي، او د کورنۍ اداري د دوام ډاډ ترلاسه کولو لپاره پخلاينه بيرته راځي.

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

بی له شکه طلاق د کور د ورانيدلو د اسبابو د جملي څخخه يو سبب دی شريعت امر کړي چي بايد کورنۍ د ميني محبت او رحمت پراساس باندی جوړ شي دا هم په کورنۍ او ټولنه او په ځانګړې توګه پر ماشومانو ډېر خطرونه او منفي اغېزې لري، چې له مور او پلار څخه جلا کېدل د هغوی لپاره رواني، ټولنيزې او اقتصادي ستونزې رامنځته کوي. دوی د کورنۍ انحطاط له امله د ښه روزنې او سالم روزنې څخه لري پاتي کيږي دا دوی د رواني ګډوډۍ،

او اکادمیک څنډونو سره مخ کوي، او دا ددي سبب کیږي چې د افراطیت، تاوتریخوالي او تروریزم ډلو لخوا د دوی د چلند انحراف کولو اسانتیا برابروي نو شیطان خپل کار کل هریود طرفینو څخه دیته هڅوي چې د ګډ ژوند د لمنځه وړلو لپاره هڅه وکړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ابلیس شیطان خپله کرسي په اوبو باندي ایږدي او خپلي ډلي لیږي او هغه ته په مرتبه کې هغه څوک نږدي دي چې ډیره فتنه یی ترسره کړی وي شیطانانو کې یو ورته راځي او وایی چې ما دا وکړو او دا وکړو ورته وایی چې تا هیڅ هم ندي کړي او بل راځي او وایی ما تر هغه پوری خاوند او ښځه تر هغه پوري پرینښودل تر هغه چې ترمنځ مو جداوالي رانوستو نو هغه ځانته نږدي کوی او وایی چې تا ډیر ښه کار کړي دی، لذا مونږ ته لازمه ده چې ځانونه د شیطان د فتنو څخه وساتو او هوښیاره ووسو.

دا څومره ښکلې ده چې د کورنۍ د ټولو غړو ترمنځ همغږي، درناوی او مینه غالبه شي، ترڅو د ټولنې تر منځ یو بل سره تړاو او ثبات راشي.

**خدایه زمونږ زړونه سره یو ځای کړي او زمونږ په زړونو کې مینه راولي او د زړونو نه مو بدیاني لري کړي.**